داغله محبوبا و مینا ئوته

دا یه وری سوغات و سائل الوته

چه مینا ئوی نازنین ده

کاری معلوم وکاپر دالوته

دا یه عمل رنګین رنګین جامو اچید

خو هم خوشالی سو نیک بختا ئوته

دو ځای چی خوشالی ...

Ketabton.com

بیایی دروازی سوی بخما الوته

زه کیدار القیوم مشفق سلام وایم

قل ده حقیقت و شاعید الوته

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دزړه ټپ

زه چه دعشق غم لرم دامي افتخاره
غم پرهرقدم لرم ستاپرهره لاره

سینه مي ستاله غمه خوږینه    راځي دۆښکوسره وینه    سترګي راواړوه په مینه
زړه درهم برهم لرم ستاله انتظاره

عاشقي ستاکړمه رنځوره    ټپ دزړګي مي سوناسوره    طبیبه ډیریم ناصبوره
چغي صبحدم لرم زه عندلیب واره

کوګل مي پوخ سواندرونه    په تناره کي دبېلتونه    ته مي لیلا زه دي مجنونه
تارنګه صنم لرم وبه سي دیداره

ناست یم دورځوپه محراب کي    مطالعه ستاپه کتاب کي    تسبیح دزلفوپه طناب کي
زه لوح وقلم لرم کاړمه اشعاره

بسته ماخلاص که له کمنده    جانانه تنګ سومه له ژونده    **علاؤ الدین** یم ارزومنده
طمعه دکرم لرم زمادمیني یاره

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

... جناب له سپينه مخه

## دساقي پيرزوينه

وکه دماسره امداد ها ها ها
ساقي په جام دسرولبانومي که ياد

راسه زماپه حال خبره
دسترگوتوره دزړه سره
وکه پرمابانديي نظره
دشيرينونارې وهم لکه فرهاد

راسه زمادزړه ملهمه
وکه پرمالطف وکرمه
ژرمي که خلاص له دردوغمه
خپله جانانه هيردي يم که دي پياد

له زړه مي نه وزې يودمه
تايادوم پرهرقدمه
تاولي هيرکړمه صنمه
باره به نه کړم په خوبانواعتمادَ

سوي نارې وهم مدامه
ترې ولاړ يم ناارامه
راکه ساقي دلبوجامه
ژرسه اوبه مي که زمادزړه مُرادَ

راسه زمادرنځ طبيبه
واوره نارې دبې شکيبه
ژوندون مي تنگ سوله رقيبه
عمرمي ټول په انتظارکي سوبربادَ

وکه نظرماهِ جبينه
پرالهامي **علاؤ الدينَ**
راسه زما دزړه تسکينه
مخ رابنکاره که ستاپه ديدمي که آبادَ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

## صنعت اعداد

## سپین مخ

محبوباراسه په فراق دي سوم کباب بېتاب واخله نقاب جناب له سپینه مخه
ترڅوبه یمه دمجنون په شان خراب تراب واخله نقاب جناب له سپینه مخه
محبوباراسه په فراق دي سوم محزون مجنون یم جګرخون بېلتون کړمه لرزان
راپوري تریخ سودغه خپل شیرین ژوندون سکون په زړه زبون میګون راکه لبان
دارودوا مي بله نسته په هیڅ ګون اکنون زړه مي درون بیرون سوي سوزانه
ساقي یوارمي که دوصل په شراب سیراب واخله نقاب جناب له سپینه مخه
محبوباراسه په فراق دي سوم فرهادبرباد وکه امداد فریادمي شب وروزه
ورځي کمان بانوخدنګ لکه اوتاد فولاد سترګي صیادجلاد کړم سینه سوزه
لکه مجنونَ پرصحرا ګرزمَ ناښادافتادپریږده بېداد اِیداداي دلفروزه
لکه ماهي سومه دوښکوپه دریاب غرقاب واخله نقاب جناب له سپینه مخه
محبوباراسه په فراق دي سومه سکورتکتوروسوم په اور سرخورلکه فروانه
بلبل مثاله یم مدام په شروشورپُرزور پروت یم نسکورشبکورخانه ویرانه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاپرياري باندي مي پريښنوکلي کور لانور وړمه پېغورهرلورلکه ديوانه
له هري خوامتوجه راته عذاب عتاب واخله نقاب جناب له سپينه مخه
محبوباراسه په فراق دي سوم هلاک غمناک مرمه بېباک پرخاک حال مي بتردي
راځخه وړي عقل وفکروادراک خوراک يم سينه چاک تناک زړه مي پرهردي
چه په وجودکي واسطه ده دافلاک املاک تاج دلولاک دپاک نبي پرسردي
زه يم شيدا لکه بلبل ته ئې گلاب نواب واخله نقاب جناب له سپينه مخه
محبوباراسه په فراق دي سوم حزين غمگين علاؤ الدين مسکين يمه مجروح
سپين دي رخسارتوردي زلفان دي لونگين مشکين لب انگبين شيرين جامِ صبوح
وکه نظرزماپرحال اي نازنين رنگين گل دنسرين سيمين راحتِ روح
**علاؤ الدين** وائي ښائسته ئې ترافتاب مهتاب واخله نقاب جناب له سپينه مخه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زخمي ځګر

ستادعشق په خنجر مي زخمي سوځګر دربدرخاک په سر سوم مجنون دصحرا
زه بنده هميشه په فريادېم داغيارودلاسه بربادېم زه هرغم لره سنګ بنيادېم
دزړګوټي پرسر مي وهي په نشتر نسته پيروډاکتر نه مي دم ودوا
نه په خوب چاليدلي داغم دي نه په ويښه دچاسره ضم دي زماملګري قدم پرقدم دي
يم په نم ليمه تر ترمجنون حال بتر دفراق پرمجمر سپلني سوم بيتا
عاشقي دغموخزانه ده زماسينه په دي غم پيمانه ده ديرونه مي داورتاؤ خانه ده
تارونارمي بشر ګډپه شوروپه شر خدايه جوړسومحشر فضل وکي پرما
لکه قيس په ليلاپسي ژاړم يونظردرحمت درڅه غواړم په واروارخالي لاس بيرته ولاړم
راغلم بياستاپردر په زاري سرتورسر ربه وکې نظر يم په خوف ورجا
زه **علاؤالدين** مرګ ته تشکيل سوم دقاتلوچشمانوقتيل سوم نن په ضربُ الْاَمثال کي تمثيل سوم

اي مازاغ البصر لږ خووکه نظر
يم روان مخ پربر الهامي بينوا

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مناجات بدرگاه قاضي الحاجات

عاجزه بنده ستايم رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا — په شوروپه غوغايم رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا

بنده په سرتورسريمه كوم درته زاري — الٰهي پناه راكي دگناهوله خواري

له هره مصيبته هم دبدوله ياري — هميش لاس په دعايم رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا

هركله چه مي روح له تنه كاږي عزرائيل — جاري مي دزړه ذكركي چه نه سمه غافل

مغلوب مي كي شيطان چه ايمان يوسمه كامل — په خوف وپه رجايم رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا

وروح ته مي كړې خلاصي دروازې ستادرحمت — چه وائي مرحبامرحباحوري دجنت

رَاضِيَةً مَّرْضِيَّه مطمئن په هرنعمت — الحمدلله وايم رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا

هم تورلحدمي خدايه ستاپه فضل نوراني كړې — هغه تنگه ډوري مي هم فِراخه ميداني كړې

پرسوال دملكينوراته جوړه آساني كړې — بېحده وارخطايم رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا

پرلاردپُل صراط مي داسي تېركړې لكه برق — الٰهي دگناهوپه درياب كي يمه غرق

دحق ودباطل سره كولائي نه سم فرق — بياهم په تمنايم رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا

بياهغه ورځ چه لمريوه نيزه سي پراسمان — داخل مي په بيرغ كړې دنبي آخرزمان

روزي مي مغفرت كړې چه مغفورسم په غفران — زه ستادردگدايم رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا

غني خدايه عملنامه مي راكړې په يمين — هم تول مي په تاله كي دنيكيوكړې سنگين

په سوال درته ولاړيم **الهامي علاؤ الدين**
ملنگ ستادرگاه يم رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا

Scanned with CamScanner

# دښت وصحرا

مجنون یمه رسوا      په عشق کي دليلا      تنها گرزم تنها      پردښت وپرصحرا
دارورا که طبيبه      رنځوريمه ناچار      زمازړه ته قريبه      په زړه کي مي پرهار
مين یمه پرتا      نظر وکه پرما
زمادسترگوتوره      بيلتون دي کړم کباب      يواررراته وگوره      ژوندون مي سوخراب
کوم شوروغوغا      سرې سترگي په ژړا
ترتادي نذرانه سم      راواړوه [illegible] چشمان      آخربه ديوانه سم      له غمه دهجران
ارمان مي پردنيا      ستادوي سترگي شهلا
فرهاديمه شيريني      وصال غواړم وصال      خورک مي دزړه ويني      څاوندده ذوالجلال
څوک مه کې مبتلا      په دارنگه بلا
پرمخ باندي شيدايم      ديارماهِ جبين      دوصل په سودايم      مجروح **علاؤ الدين**
لرمه تمنا      ديدن ته ده اشنا

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاکشکي همیشه وائي دجانانه سره ناست — مجبوریم مخامخ به پیښوم ورنه درخواست

مجروح **علاؤ الدین** دي — په عشق کي دي غمگین دي

له غمه مي زړه شین دي — نه مي صبرسته نه تاب

## دخوږو ...... زړو طبیب

زه ستاده درغلام یم ته بادارئي حبیبه — زه ستاده درملنگ یم ته سردارئي حبیبه

نظررابا ندي وکه ژوندمي ډیردي په زحمت — زبون لکه مجنون یم دلیلاپه محبّت

دؤ ښکوپرځائي ویني تویومه دحسرت — زه ستادعشق بیدل یم ته دلدارئي حبیبه

علاج دهرمرض لرې دخوږو زړوطبیبه — په طمع ستادوصل یم راغلي زه غریبه

همیش مي سوي چغي دي په شان دعندلیبه — زه ستاداباغ بلبل یم ته گلنارئي حبیبه

معموره ئې په حسن ښائسته مخ دي څراغ — پرگرزم پروانه غوندي راوړم پرسینه داغ

داستاله دردوغمه یوگړي نسته فراغ — زه ستاپرمخ عاشق یم ته نگارئي حبیبه

دسترگووظیفه مي سوه پیوسته گریاني — دحسن پرلمبودي یمه سوي سوزاني

پرڅنگ راسره کښینه زمایاره نوراني — زه ستادنورپیتنې یم ته منارئي حبیبه

ترڅوبه گلومه لوړي تندي دفراق — چولونه ومزلونه دغه ستاپه اشتیاق

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غاړه کي راولويدوڅلورکونجه آفاق　　زه ستادبندبندي يم ته مختارئي حبيبه
بندي سومه جانانه ستادهجرپه لومکه　　درب دپاره خلاص مي که دوصل په کومکه

**علاؤ الدين** وائي زمادسترگومرد مکه
زه ستاپه غموباريم ته غمخوارئي حبيبه

Scanned with CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**